مسلمانه کورنۍ هغې کورنۍ ته ويل کېږي، چې د هغې ټول غړي د الهی احکامو او محمدي شريعت په ارشاداتو ټينګ ولاړ وي. د ښو اخلاقو درلودل، د اسلامي آدابو رعايتول، د يو بل احترام، په ماشومانو شفقت او د مشرانو احترام، دعلم او پوهې د لاسته راوړلو لپاره هڅه او هاند او له حلالې لارې د ژوند ارتياوو لاسته راوړل، د اسلامي کورنۍ ځرګنده ځانګړتياوې دي. په ديني او دنيوي وجايبو او مسؤوليتونو اداء کولو کې خير او سعادت ګڼل له کينې، درواغو او غيبت نه لرې والی، نا سمې نفسياتي غوښتنې د الهي احکامو په الهام منکوب او له منځه وړل، له خيانت، ظلم او تېري نه ځان ساتل او ليريوالی تريې وکړي او په هر حالت کې پر خپلو اعمالو خدای جل جلاله حاضر او ناظر وګڼي او د دغه مبارک حديث مصداق وګرځي: المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده. ژباړه: کامل مسلمان هغه ځوک دی، چې مسلمانان يې د لاس او خولې له شر ځخه خوندي وي.

کله چې ايمانونه قوي وو

دواړو لښکرو د جګړې لپاره خپلی ليکې جوړولې چې ناڅاپه مسلمانان متوجې شول چې فارسيانو په جګړه کولو روزل شوی زمری له ځانو سره راوستی او په غير دمخکينی خبرتيا د مسلمانانو په ليکو ورخوشی کړ، زمري خپل غا ښونه را ايستلي رمباړې وهلې او د مسلمانانو پر لور ورخوشی ؤ.

د مسلمانانو د ليکو نه يو ځوان چې د زمري په شان زړه لرلو را ووت او د زمري په لور ور رهي شو، ډېر ډارونکی اوحيرانونکی منظر ؤ چې هېڅ تصور يې نشو کيدلی، زما په اند په تاريخ کی به داسی پېښه نه وي ثبت چې انسان دې د زمري سره غيږ په غيږ کيدو ته ورغلي وي

دواړو لښکرو کتل او په دې ډېر حيران وو چې څنګه يو انسان چې د هغه قوت هرځومره زيات وي د زمري مقابله کولای شی،

زمونږ دا زمری د هوا د څپو په شان د زمري په لور پداسی حال ور روان ؤ چې د زمري هېڅ وېره په زړه کی نه وه بلکې په دې ډاډمن ؤ چې زمری دده څخه وېرېږي، بيايې په زمري باندې د توري څو ګذارونه وکړل چې په نتيجه کی يې زمری مردار شو

ددې پېښې په ليدو سره د فارسيانو په زړونو کی د ډار او وېرې يخې څپې ننوتې چې څنګه د يو داسې لښکر مقابله کولای شو چې مجاهدين يي د زمريانو څخه نه وېرېږی، هماغه ؤ چې مسلمانانو هغوی د وچو وښو په شان د پښو لاندې دل کړل او يوه عظيمه بريا يي تر لاسه کړه

بيا د لښکر اعلی قومندان سعد بن ابی وقاص د هغه مجاهد د درناوي او په تندي باندی د ښکلولو لپاره ورغلو خو هغه مجاهد د خپل قومندان په پښو ور پريوتو او ښکل يې کړې او ويې ويل چې ستا غوندې قومندان پښې بايد ښکل شي دا ځوان هاشم بن عتبه ابن ابی وقاص ؤ (ژباړه استاذ محمد شفيق مشفق).

د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان غړیتوب؛ یو ښه ګام، خو که ګټه ترینه پورته شي!

اصلاح رسنیز ګروپ/ نعمت الله عزیزی

افغانستان د سوداګرۍ د نړیوال سازمان رسمي او بشپړ غړیتوب ترلاسه کړ. افغانستان یوسل او څلورشپېتم هېواد دی چې په (World Trade Organization) یا (WTO) سازمان کې یې د روان کال (۱۳۹۵لمریز) د زمري په اتمه نېټه رسمي غړیتوب ترلاسه کړ.

د سوداګرۍ نړیوال سازمان چې په ۱۹۹۵ زیږدیز کال کې رامنځته شوی، د نړیوالې سوداګرۍ قوانین تنظیم او د غړو هېوادونو تر منځ سوداګریزې ستونزې حل کوي، د دې نړیوال سازمان په اهدافو کې د ژوند د کچې لوړول، په غړو هیوادونو کې د بشپړ اشتغال یا توظف تامینول، د صنعت او سوداګرۍ پراختیا او پدې برخه کې له نړیوالو منابعو څخه ښه ګټه اخیستنه، هر اړخیزه او پایداره انکشاف، د چاپېریال ساتنه او په بین المللي تجارت کې د پرمختګ په حال هیوادونو وندې زیاتول او په نړیوال تجارت کې ورته د رشد زمینې برابرول شامل دي.

افغانستان چې په وچه کې ګیر هېواد دي، همیشه یې سوداګر د خپلو ګاونډیو هیوادونو په ځانګړې ډول ایران او پاکستان له ټرانزیټي لارو څخه ګټه اخلي چې له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي او ګاونډي هیوادونه د افغانستان له دې مجبوریت څخه سیاسي ګټه پورته کوي، اوس چې له ایران څخه پرته د افغانستان ټول ګاونډي هېوادونه د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې وار له مخه غړیتوب لري، ځینې شنونکي تر یو بریده د ټرانزیټ ستونزې حل ته خوشبین دي.

افغان چارواکي هم هیله لري چې په دې سازمان کې به د افغانستان غړیتوب د سوداګرۍ د پراختیا او د ټرانزیټي ستونزو د حل لامل شي.

افغانستان ته د سوداګرۍ د نړیوال سازمان ګټې څه دي؟ د دې سازمان غړیتوب به د ټرانزیټي ستونزو په حل کې تر کومه رول ولري؟ او دا چې آیا افغانستان به وکولای شي ځان پر هغو معیارونو برابر کړي چې د سوداګرۍ نړیوال سازمان یې غوښتنه کوي؟ دا او ځینې نورې مهمې پوښتنې مو له کارپوهانو، شنونکو او مسوولینو سره څېړلې دي چې د لوستلو بلنه یې درکوو.

د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان غړیتوب څومره د اهمیت وړ دی؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد تاج محمد اکبر یې په هکله وایي: دا غړیتوب دوې برخې لري: یو دا چې د افغانستان غړیتوب په دې سازمان کې له نورو هېوادونو سره یوه لاره پرانیزي چې د افغانستان د راتلونکې لپاره ښه کار دی.

خو د ښاغلي اکبر په وینا په اوسني حالت کې افغانستان له ستونزو سره مخ دی او په دې سازمان کې له نورو غړیو هېوادونو سره د سیالۍ جوګه نه دی او آن د سېمې له هېوادونو سره هم د سیالۍ توان نه لري او ډېر محدود توکي لري چې نورو هېوادونو ته یې صادر کړي.

د دې اقتصادي کارپوه په اند همدا اوس په افغانستان کې د ځینې وارداتي توکیو نرخونه دومره ټیټ دی چې له داخلي تولید سره سیالي کوي، دلیل یې هم په هغو هېوادونو کې د زیربنایي جوړښتونو، د بانکداری منظم سیستم او د لازمو امکاناتو شتون دی. چې په خواشینۍ سره په افغانستان کې بیا د داخلي تولیداتو او پانګونې لپاره دومره امکانات شتون نه لري او آن چې د سوداګرو او پانګوالو ځاني او مالي خوندیتوب ته هم هیڅ پاملرنه نه کېږي.

د ښاغلي تاج محمد اکبر په وینا دا چې د هېواد په اوسني وضعیت کې پانګونې ته لازم شرایط مساعد نه دي او داخلي تولیدات نه شي کولای له بهرنیو توکیو سره سیالي وکړي، نو پر دې اساس د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان غړیتوب -سره له دې چې ښه ګام دي- خو هغه وخت په لا ډېر ښه ثابت شوي وو چې په نړیوالو بازارونو کې د افغانستان توکیو او داخلي تولیداتو د سیالي توان درلودلای.

له بلې خوا د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونو د مطبوعاتو مسوول محمد صیام پسرلی وایي: افغان حکومت په وروستیو کې ښې لاسته راوړنې درلودلې چې یو له هغو څخه د سوداګرۍ د نړیوال سازمان غړیتوب اخیستل وو.

نوموړی زیاتوي: په دې کې شک نه‌شته چې دا سازمان ګټې او تاوانونه لري، خو په وینا یې په ځانګړې ډول د وروسته پاتې او یا د پرمختګ په حال کې هېوادونو لپاره ځانګړې امتیازونه هم لري چې په کار ده افغان حکومت له هغو نه هراړخیزه ګټه پورته کړي.

د نوموړي په وینا د (ډبلیو ټی آو) سازمان به له افغانستان سره مرسته وکړي چې خپلې ټرانزیټي او سوداګریزې اړیکې له غړیو هېوادونو سره پراخې کړي. خو ښاغلی پسرلی زیاتوي: دا هم یو شرط

دی چې د افغانستان داخلي قوانین باید د نړیوالو معیارونو پر اساس جوړ کړل شي چې په وینا یې په دې برخه کې هم له نیکمرغه د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ۲۰ قوانین، ۵ طرزالعملونه او ۲ مقررې اصلاح کړې دي.

نومورې همدارنګه په دې سازمان کې د افغانستان غړیتوب د دې هېواد د اقتصاد او سوداګرۍ لپاره مهم ګام ګڼي.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ویاند مسافر قوقندي د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان غړیتوب په مختلفو اړخونو کې ګټور ګڼي او وایي: د افغانستان د اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه د پانګونې د را جلبولو لپاره د دې سازمان غړیتوب خورا مهم دی او په باور یې، کله چې افغانستان په دې سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړ، په اصل کې یې یو نړیوال با اعتباره تضمین لاسته راوړ چې د ډېرو پانګونو د جلب لامل به وګرځي.

د نومورې په وینا کله چې په هېواد کې پانګونې ترسره شي او پانګونې جلب کړای شي، دا د هېواد د اقتصادي ودې، د بېکارۍ د کمیدو او کاري زمینو د رامنځته کېدو لامل ګرځي او په وینا یې د افغانستان په ځېر لږ پرمختللو هېوادونو چې کله د سوداګرۍ سازمان غړیتوب ترلاسه کړی، له ۱،۵ تر ۳ کلنه اقتصادي وده یې کړې چې تمه ده افغانستان هم ترې برخمن شي.

همدارنګه د سوداګرۍ وزارت ویاند باور لري چې په دې کار سره د سوداګرۍ د نړیوال سازمان د ۱۶۳ غړیو هېوادونو بازارونو ته د افغانستان د میوو، سبزیو او نورو داخلي تولیدات لاره پرانیستل شوه.

د نومورې په وینا د دې سازمان موخو ته په کتو سره -چې په ټرانزیټ کې د آسانتیاوو رامنځته کول، د اقتصادي ودې زیاتوالي همدارنګه د کاري فرصتونو رامنځته کول دي- باور لرو چې په دې سازمان کې به د افغانستان غړیتوب د داخلي تولیداتو، اقتصادي ودې، د پانګونې د جلب، صادراتو زیاتوالي او د کاري زمینو رامنځته کولو کې مهم رول ولري.

له ګاونډیو سره ټرانزیټي ستونزې او د (WTO) سازمان رول:

افغانستان چې په وچه کې ګیر هېواد دي او تر ډېره د سوداګرۍ په برخه کې له ستونزه سره مخ دی او تل یې د ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران څخه د ټرانزیټ په هکله شکایت درلود، اوس چې افغانستان د سوداګرۍ د نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ او پاکستان وار له مخه د دې سازمان غړی دی، تر کومه کولای شي د افغان سوداګرو ټرانزیټي ستونزې ورسره هوارې شي؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد تاج محمد اکبر وایي: دا چې اوسني وضعیت کې یوازې دسوداګرۍ نړیوال سازمان نه دي چې پاکستان او د سېمې نور هېوادونه یې غړیتوب لري، بلکې په شانګهای سازمان کې هم د سېمې ګڼ هېوادونه غړي دي، خو دا ستونزې نه دي مطرح شوي او په افغانستان باندې تعزیرات وضع کېږي، په داسې حال کې چې د ۱۹۶۵زیږدیز کال د جینوا د کنفرانس له مخې په وچه کې ګیر هېوادونه آزادو اوبو ته د لاسرسي حق لري، خو ایران په ژمي کې پر افغانستان ګاز بند کړ او پاکستان هم تل د سوداګرۍ نه د سیاسي حربې په توګه ګټه اخلي.

د نومورې په وینا افغانستان په اقتصادي او سیاسي لحاظ په کمزوري دریځ کې دی چې باید په دې برخه کې قوي سیاست ولوبول شي.

د سوداګرۍ او صنایعو خونو د مطبوعاتو مسوول محمد صیام پسرلی بیا وایي: پرته له ایران نه د افغانستان ټول ګاونډیان د سوداګرۍ د نړیوال سازمان غړیتوب لري چې په دې سازمان کې اصول دا دي چې باید غړي هېوادونه یو له بل سره ښې سوداګریزې او ټرانیزیتي اړیکې ولري او که داسې نه وي، د یو هېواد د شکایت په صورت کې په مقابل هېواد باندې به دا سازمان فشار راوړي.

د سوداګرۍ او صنایع خونو د دې مسووول په باور دا به پاکستان باندې زمونږ د فشار آله وي، تر څو له افغانستان سره ښې سوداګریزې او ټرانزیټي اړیکې ولري. خو که چېرې همیشه ستونزې رامنځته کېږي، افغانستان به دې سازمان ته شکایت کوي، تر څو د هغه له لارې پر پاکستان باندې فشار راوړل شي.

همدارنګه د ښاغلي صیام په وینا د دې سازمان بله ښېګڼه دا ده چې د سوداګریزو ستونزو د حل مرکز او کمیټه لري چې له هغې لارې هم افغانستان کولای شي له ګاونډیو سره خپلې سوداګریزې او ټرانزیټي ستونزې حل کړي.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ویاند مسافر قوقندي هم په دې باور دی چې وروسته له دې به افغانستان له هغو هېوادونو سره چې د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې غړیتوب لري د ټرانزیټ ستونزه ونه لري، خو ایران چې په دې سازمان کې غړیتوب نه لري له دې موضوع جدا دی.

د ښاغلي قوقندي په وینا افغان حکومت په تېره یوه لسېزه کې هڅه کړې چې په سېمه کې د سالم رقابت زمینه برابره کړي او د ټرانزیټي هېواد په توګه مطرح شي چې په باور یې دا کار ترسره شوی دی او هر هغه هېواد چې د افغانستان لپاره ډېرې آسانتیاوې رامنځته کړي، ټرانزیټ به یې ډېرېږي.

بروکراسي، فساد او پر وړاندې یې مبارزه!

په افغانستان کې تر ډېره د سوداګرۍ په برخه کې پیچلیو قانوني مراحلو، بروکراسۍ او مالي فساد خبره یادیږي، ترکومه دا ډاډ شته دی چې افغانستان وکولای شی د دې سازمان معیارونه پوره کړي او د فساد او بروکراسۍ پر وړاندې جدي مبارزه وکړي؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد تاج محمد اکبر باور لري چې لکه څنګه چې په وارسا کنفرانس کې افغان حکومت معیارونه او شرطونه نه وو پوره کړي، خو د دې کنفرانس له خوا ورسره د مرستو د دوام خبره مطرح شوه، په نړیوال سوداګریز سازمان کې هم د غړیتوب موضوع همداسې ده.

د دې اقتصادي کارپوه په اند دا چې نړیوال له افغانستان سره مرستې کوي دا په دې معنا نه ده چې شرطونه او معیارونه چې په (شیکاګو، د بن دویم کنفرانس، او یا توکیو) کې اینښودل شوي وو،

پوره او عملي شوي، بلکې د ښاغلي اکبر په وينا نړيوالو په افغانستان کې په لوړه کچه پانګونه کړې او اوس نشي۔ کولای خپله پانګونه له صفر سره ضرب کړي.

نوموړی د بیلګې په توګه وایي: دا چې قاچاق، د پانګونې پر وړاندې ستونزې، د بشري حقوقو بد وضعیت او ډېرې نورو ستونزو سره سره نړیواله ټولنه له افغانستان سره مرستې کوي؛ د هغه ټینبل محصل په ډول ده چې څو ازموینو کې ناکام شي، آخر استاد مجبور شي د بریالیتوب نمرې ورکړي چې له جنجال نه یې ځان خلاص کړي.

له بل لوري د سوداګرۍ او صنایعو خونو د نشراتو مسوول صیام پسرلی باور لري چې د افغانستان نړیوال مرستندویان په دې غړیتوب باندې خوشحاله دي او دا یوه لاسته راوړنه ګڼي چې افغانستان کولای شي په دې سره نورې مرستې هم له نړیوالو ترلاسه کړي.

خو د ښاغلي پسرلي په وینا: سره له دې چې په هیواد کې بروکراسي، مالي فساد، اداري فساد او نورې ستونزې شته دي، خو د دې سازمان غوښتنه همدا ده چې دا ستونزې باید راکمې کړل شي او په باور یې دا یو ډول پر افغان حکومت باندې فشار دی چې ژر تر ژره اصلاحات رامنځته کړي.

د سوداګرۍ او صنایعو خونو د نشراتو مسوول باور لري چې همدا فشار د دې لامل شو چې افغان حکومت په دې برخه کې جدی شي او د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ۲۰ قوانین، ۵ طرزالعملونه او ۲ مقررې اصلاح کړي. د سوداګرۍ او صنایو خونو دا مسوول ګوتځنډنه کوي چې چېرې افغان حکومت خپلې ژمنې عملي نه کړي، د رسنیو له لارې به خپل غږ پورته کوي.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ویاند مسافر قوقندي تېنګار کوي چې افغانستان د سوداګرۍ د نړیوال سازمان ټول معیارونه پوره کړي دي او زیاتوي: "که چېرې مور ځان هغو معیارونو ته چې په دې سازمان کې مطرح دي، نه وای رسولای، هیڅکله به افغانستان ته غړیتوب نه وو ورکړل شوی."

نوموړی دا هم وایي چې په تېرو شپږو میاشتو کې دیرش قوانین او طرزالعملونه یا له سره جوړ شوي او یا هم اصلاح شوي دی، لکه پر عایداتو د مالیې قانون، د ستنډرډ قانون، د چاپیریال او نباتي صحت قانون، او په باور یې افغانستان بیا هم ژمن دی چې په راتلونکو پنځو کلونو کې لا ډېر کار ترسره شي.

د افغانستان غړیتوب تر کومه له خطر سره مخ کېدای شي؟

دا چې ځینې کارپوهان د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان غړیتوب د دې سازمان له لوري افغانستان ته یو ځانګړی امتیاز ګڼي او باور لري چې افغانستان تر اوسه هغه معیارونه نه دي پوره کړي او لا هم په دې هېواد کې بروکراسي، مالي او اداري فساد د منظم بانکي سیستم نه شتون او نورې ستونزې پر خپل ځای پاتې دي، نو که چېرې افغان حکومت په دې برخه کې جدي کار ترسره نه کړي، تر کومه د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې یې غړیتوب له خطر سره مخ کېدای شي؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد تاج محمد اکبر وایي: په ټولو موضوعاتو کې له افغانستان سره سیاسي چلن کېږي او په راتلونکې کې به هم پرته له دې چې بریالیتوب په نظر کې ونیول شي، دا سیاسي چلن روان وي، ځکه د نوموړي په وینا اوس افغانستان د نړیوالو لپاره یو پیټی دی او مجبور دي له دې هېواد سره مرسته وکړي.

ښاغلی اکبر ډاډمن نه دی چې د افغانستان اوسنی حکومت به حتي وکولای شي چې یو شرط هم پوره کړي، بلکې په باور یې ورځ تر بلې د فساد کچه پر لوړیدو ده او ولسمشر۔ او اجرائیه رئیس خپلې ډلې او ټپلې پالي، قومي ، ژبنیو او سمتي مسایلو ته لمن وهل کېږي.

بلخوا د سوداګرۍ او صنایعو خونو د نشراتو مسوول صیام پسرلي وایي: دا اندیښنې شتون لري چې که چېرې د سوداګرۍ په برخه کې لازم کارونه لکه: د قوانینو اصلاح، د بروکراسۍ پر وړاندې مبارزه، او د ټولو امتیازونو نه ګټه وانه خیستل شي، د دې خطر شته دی چې د افغانستان غړیتوب په دې نړیوال سازمان کې وځنډول شي او آن کېدای شي خپل غړیتوب له لاسه ورکړي.

خو نوموړی وایي له حکومت څخه زمونږ جدي غوښتنه دا ده چې په دې برخه کې کار وشي او د ټولو امتیازونو نه ګټه واخیستل شي.

د یادولو وړ ده چې د سوداګرۍ نړیوال سازمان چې مرکز یې د سویډن په ژنیو ښار کې دی او افغانستان له ۲۰۰۴ زیږدیز کال راهېسې د دې سازمان څارونکی غړی وو، خو د زمري په اتمه نېټه د دې سازمان د ۱۶۴ بشپړ غړیتوب لرونکی هېواد په توګه ثبت شو.

چرا غرب پای روسیه و ایران را به سوریه باز کرد؟

نویسنده: استاد خلیل احمد جامی

تحولات اخیر مخصوصاً در منطقه‌ی عربی از افریقا تا حوزه‌ی خاورمیانه، که با خیزشهای بزرگ مردمی همراه است، حاکی از پیدایی تغییراتی اساسی در نهاد ملتها و تصمیم برای بازگشت به خویش و احیای دوباره‌ی تمدن اسلامی در این جغرافیای بزرگ اسلامی بعد از چند قرن سکوت و تحمل و به خواب رفتگی است!

این تغییر بنیادین ـ که نتیجه‌ی حتمی کارکردهای دلسوزانه، طولانی و مستمر دعوتگران مسلمان معاصر از سید جمال الدین افغانی گرفته تا محمد عبده و حسن البنا و ابوالاعلی مودودی و دیگرانی است که یا به صورت فردی و یا در قالب جماعتهای منظم، شب و روز مصروف پیش‌برد امر سرنوشت ساز دعوت اسلامی بودند ـ موجب نگرانی فراوان برای قدرتهای مستکبر دنیا مخصوصاً امریکا گردید.

غرب پیدایی این تحول را در تقابل با اهداف استعماری خود در جهان معاصر می بیند و چنان تصور میکند که اگر این فرایند به نتیجه رسیده و عروسکهای پوشالینش را از عرصه‌ی قدرت به زیر بکشاند و به جای آن نظامهایی را مبتنی بر اراده‌ی ملتها به میان آورد، همه رشته‌هاشان پنبه خواهد شد و دیگر زمینه‌ی برای چپاول اقتصادی و تسلط سیاسی و فرهنگی و ایدئولوژیک غرب در منطقه باقی نخواهد ماند!

همین نگرانی، غربیها را بر آن داشت که به هر طریق ممکن برای مهار این قیامِ شامل و فراگیر، اقدام نمایند و این است که دست به انبان کثیف دسیسه اندر کردند و عجایب رنگارنگ را از درون آن کشیده و به جان ملتها انداختند، آرمانهای ملت بزرگ مصر- را با حربه‌ی استبداد نظامی درهم کوبیدند، در لیبی از همین جنس آتشی بر پا کردند، در عراق مصیبت طائفی و مذهبی را پدید آوردند و در الجزایر و تونس و یمن و ... کردند آن چه کردند.

و اما در سوریه به دلیل موقعیت ژئوپلیتیک و حساس آن، اختاپوس استعمار، همه شاخهای زهر آلود خود را به کار انداخت تا جلو اراده‌ی ملت سوریه، در رسیدن به پیروزی گرفته شود و ضمن همین فرایند، به چند منظور، میدان را برای مداخله‌ی حکومتهای روسیه و ایران نیز در این کشور باز گذاشت تا بزرگترین جنایت قرن در این کشور اسلامی رقم بخورد و چنین نیز شد طوری که تا کنون، از جمعیت بیست و سه میلیون این کشور، نزدیک به پنجصد هزار نفر کشته، هشت تا ده ملیون نفر آواره و هفتاد فیصد و یا بیشتر، از خاک سرزمینی که پایتختی از پایتختهای با شکوه تمدن اسلامی ما به حساب می آید با خاک یکسان شد و زیر بناها و تاسیسات اقتصادی و نظامی آن برباد برباد.

غربیها در سوریه در پی چیستند؟

چنین به نظر می آید که غرب به رهبری امریکا در سوریه، در صدد انجام دوباره‌ی بازی افغانستان با ابعادی بزرگتر و مقاصدی پیچیده‌تر بر آمده است.

اولین هدفی را که امریکایی‌ها در آن منطقه دنبال میکنند، خلع سلاح این کشور اسلامی، در برابر خطر بالقوه‌یی است که مخصوصاً بعد از تحولات بزرگ مردمی در این حوزه، وجود نامشروع و حرامیِ صهیونیزم و منافع دراز مدت غرب را در این کشور، تهدید میکند.

البته غربیها سیاست خلع سلاح منطقه را مدتهاست که در پیش گرفته اند چنان که قبلا موتور جنگی عراق را به همین منظور از کار انداختند، لیبی را همچنین، مصر- را نیز تصمیم دارند که به چنین سرنوشتی دچار کنند، سودان را تجزیه کردند، عربستان را در جنگ یمن درگیر ساختند و یمن را نیز بدین آتش در آوردند و سوریه را نیز میخواهند با ادامه‌ی کشمکشهای موجود از میدان به در کنند!

با این حساب دیگر تهدید بالقوه و بالفعلی وجود نخواهد داشت که صهیونستها از آن در هراس باشند و منافع نامشروع غرب بدان وسیله مورد تهدید ملتها قرار گیرد!

دومین هدف امریکا، به دام انداختن رقیبهای نیمه جانی است که گاهی از اینجا و آنجا سر بالا

میکنند و برای غرب در جهان شاخ و شانه میکشند که مهمترین شان میتواند روسیه به حساب آید.

روسیه بعد از فروپاشی جماهیر شوروی دیگر برای غرب تهدیدی جدی نیست، اما هنوز شمه‌ی از قوت و قدرت سابق برای ایجاد مزاحمت در وجودش باقی مانده که این امر برای امریکاییها خوش آیند نیست و چاره‌ی آن درگیر کردن روسها در جنگ دیگری از جنس جنگ افغانستان است که هم تلفات مالی و جانی سنگین و هم تبعات منفی سیاسی و حیثیتی را بالای شان تحمیل کند.

این است که برای روسها از جانب غرب چراغهای سبز روشن شد تا وارد معرکه شوند و به نفع دوست دیرین خود یعنی خانواده‌ی بعثی اسد، دست به اقدامات جنایتبار و غیر مسئولانه در برابر ملت سوریه بزنند!

نتیجه‌ی این فرایند از همین اکنون مشخص است و زمان نیز این حقیقت را به اثبات میرساند که غرب، روسیه را در این منطقه به هچلی اندر کرد که در نهایت سرنوشتی بدتر از افغانستان انتظارش را میکشد.

بدیهی است که روسها با این کارنامه‌ی سیاهی که از خود در کشتار سوریها و ویرانی این سرزمین بر جای گذاشتند اولاً محال است که در آینده جاپایی برای شان در این منطقه باقی مانده باشند و ثانیاً دولت روسیه، به مشکل خواهد توانست از پس پرداخت هزینه‌های کمرشکن و رو به افزایش جنگ و جنایات جنگی یی برآید که در این کشور در حال ارتکاب است!

این حالت به صورت قطع موجب از میان رفتن اعتبار و قدرت متزلزل روسها در منطقه و حتی در کشور خود شان خواهد بود که به این ترتیب اگر اراده‌ی الله رفته باشد، باید در آینده‌ی که خیلی دور به نظر نمیرسد، منظر فروپاشی دیگری در پیکره‌ی جغرافیای ارضی و سیاسی این کشور باشیم!

سومین هدفی که غربیها از کشاندن پای ایران به ماجرای سوریه دنبال میکنند، زدن یک تیر به چند نشان است.

اولاً، ایران را نیز، به عنوان یک حوزه‌ی اسلامی، درگیر جنگی کردند که به طور حتم، به جز مصیبت برای این کشور هیچ حاصلی در پی ندارد. همین اکنون، روزانه چندین تن از بهترین سربازان ایرانی در سوریه کشته میشوند و ملیاردها دالر توسط ایران در این جنگ پوچ به مصرف میرسد.

جنگی را که حکومت ایران در سوریه پیش میبرد، شرعاً و عقلاً یک حماقت محض به حساب می آید، چه، قدر مسلم آن است که قطعاً ملت سوریه به تسلط ایران، بر کشور شان، تن نمیسپارند و این حضور و مداخله، حاصلی که روی دست حکومت ایران باقی میگذارد، کشته های رو به افزایشی است که باید در برابر آن پاسخگو باشد و هزینه‌های کمرشکنی که تاثیر مستقیم آن را ملت بیچاره ایران بر دوش خود احساس میکند و نیز بی اعتباریِ در حال تزایدی که این کشور هم به لحاظ داخلی و هم بین المللی با آن مواجه است.

ثانیاً هدف غرب، ایجاد تنشهای مذهبی در میان مسلمانان به منظور افتراق و تضعیف بیشتر ابنای امت اسلام است که متاسفانه به همین علت زمینه را برای مداخلات دولت ایران به بهانه‌ی دفاع از تشیع، در منطقه و از جمله گودال سوریه فراهم آورده است.

امریکایی‌ها، برنامه تجزیه بیشتر حوزه‌ی اسلامی را در نظر دارند و مداخله ایران در این زمینه برای آنان بسیار تسهیل کننده به نظر میآید چرا که از قوت ایران برای تضعیف امت و کشورهای اسلامی بسیار خوب سوء استفاده میکنند و زمینه را برای تجزیه های که هم در سوریه هم در عراق و حتی در خود ایران و ترکیه و... بر مبنای نقشه جدید خاور میانه در نظر دارند بدین وسیله مساعدتر میسازند.

ثالثاً هدف امریکا، گرمی بازار فروش اسلحه در

منطقه است که به وسیله‌ی مداخلات دولت ایران، بسیار موجه به نظر میآید و سرمایه‌های هنگفت کشورهای اسلامی منطقه، که اکنون در برابر ایران بسیار حساس شده و شدیداً به رقابت برخاسته اند، در عوض به کار رفتن در عرصه‌ی تمدن و سازنده‌گی و رفاه جوامع، صرف خرید و یا ساخت سلاح به منظور دفاع میشود و این رقابت با توجه به عوامل موجود سیری صعودی دارد که نفع آن فقط و فقط به جیب غربیها سرازیر میشود، و جالب‌تر آن که در فرصت مناسب توسط خود آنان نیز تخریب شده و از میان میرود!

به هر حال!

تصور امریکاییها بر آن است که به هر صورتی این قضایا تحلیل شود، در نهایت، نتیجه از جانبی شکست حریفان و از دیگر سو، ایجاد وابستگی، ضعف و ذلت و درمانده‌گیِ همه ملتهای مسلمان منطقه در برابر آنان خواهد بود! و با این پیشامد، ملتها دیگر خیال قیام و اهداف و آرمانهای خود را از سر به در میکنند و تسلیم حکمیت غرب میشوند و زمینه برای ادامه‌ی همان درامه‌ی گذشته مساعد شده و باز همان آش است و همان کاسه!

باری!

این تصور غرب از ماجرای موجود است!

و اما بالفرض پذیرفتن این خیالات، میتوان گفت که در این بازی، یک روی سکه چنین به نظر میآید و حال باید بنگریم که روی اصلی این سکه چه نقشی دارد!

از قدیم گفته اند آن چه که به دل مهمان است اگر به دل صاحب خانه هم باشد خوب است!

غربیها باید بدانند که با این عملکردهای خائنانه نسبت به این صاحبخانه، چنان امواجی از خشم و نفرت و انزجار نسبت به آنان در این جا به میان آمده که شاید در طول تاریخ نسبت به هیچ متجاوز و ظالمی چنین حساسیتی ایجاد نشده باشد!

لهذا، در این بازی ممکن است قسمتی از آن چه که امریکا در صدد تحصیل آن است مخصوصا در قسمت روسها و ایرانیها و بعضی مصالح آنی دیگر به دست آید، اما آن چه را که به عنوان اهداف کلان و استراتیژیک تعقیب میکند یقینا به چنگ نخواهد آورد.

حقیقت امر این است که مسیر اصلی آینده‌ی این منطقه‌ی اسلامی را، فقط و فقط امت در حال بیداری اسلام مشخص میسازد و هیچ قدرتی توان رویارویی با این جریان بالنده را ندارد!

کاری را که غربیها فعلا پیش میبرند نهایتاً از یک سو فقط پروسه‌ی حاکمیت ملتها را تا حدی میتواند به تعویق اندازد، اما از جانب دیگر روند مبارزه و مقابله‌ی آنان را با دشمن به پختگی بیشتر میرساند! چه امت اسلام در مسیر این تقابل ضرورت هرچه بیشتر به شناخت و کسب معرفت دقیق تر نسبت به دشمنان و دوستان خود دارد و این حوادث در این راستا بسیار موثر تمام شده است.

بدون شک در این بین ممکن سرزمینها با خاک یکسان گردند و ملتها به خون در غلتند، اما، قدر مسلم آن است که بر اراده و ایمان استوار، چشمان بیدار، عقول در حال رشد و سرنوشت ساز آنان، کسی غالب شده نمیتواند و این همان ارزشی است که امت اسلام، امروز بدان دست یافته و هرگونه فشاری در این زمینه، به هر رنگی که باشد فقط عزایم را در رسیدن به اهداف والای که انتخاب شده است جزم‌تر میسازد و بس!

در این زمینه اگر مثالی مشخص ارائه بداریم میتوان گفت که آیا، محبوبیت رئیس جمهور منتخب مصر- محمد مرسی، قبل از کودتای جنرال سیسی که با حمایت ظالمانه‌ی غرب انجام شد، در میان مردم بیشتر بود یا اکنون؟ آیا نفرت و انزجار مردم مصر- از غرب و مخصوصاً امریکا و عوامل آن، قبل از کودتای سیسی بیشتر بود یا حالا؟ در سوریه و دیگر حوزه های عربی وضعیت از چه قرار است؟! آیا جوامع اسلامی قبل از این تحولات بیدارتر بودند یا امروز؟!

بلی!

پاسخ بدین پرسشهاست که امت اسلامی را به آینده‌ی روشن، امیدوار کرده است و نشان از شکست این دسایس شیطانی در حق امت ما دارد!

لهذا، اساسی ترین مسأله اکنون برای مدعیان خرد و عقلانیت، آن است که آیا میتوانند از این مجال درس عبرتی برگیرند و یا نه با پیمودن همان مسیر بن بست، ثابت میسازند که عقل و خرد شان همچنان در قبضه‌ی شیطانی است که قرآنِ پاک در موردش فرموده است: ان کید الشیطان کان ضعیفا!

باسپاس از ماهنامهء معرفت

د تمدنونو جګړه:

په اسلامي نړۍ کې د شته دربدرۍ اصلي لامل

زاهد جلالي

ماښـــام تیاره وه چې اکوړه خټک کې په موټر کې سپور شوم. د ګروپ رڼایي ته مې د شعرونو یو کتاب راووښت او لوسته مې. خوا ته کس ته مې پام نه و. هغه مې پر اوږه لاس کېښود او د همدغو شعرونو په باب یې خبرې پېل کړې. د مجلس ســړی و، نو کیســو کې ډوب شــو. هغه په اســلامي نړۍ کې د شته بحران لامل د مسلمانانو کمزوري او بې ثقافتي بلله، خو ما یې اصلي لامل د بهرنیو دسیسې.

هغه په اویامو میلادي کلونو کې په ســیاسي علومو او تاریخ کې زده کړې کړې وې او اوس په کاناډا کې اوسېده. باثقافته ښکارېده. زما او د هغه بحث زما په دوو پو ښتنو پای ته ور سېده. هغه ویل چې د وزیرســتان خلکو توازن له لاسه ورکړی او عام خلک وژني او اســتدلال یې کاوه چې د دې امر خو غرب نه دی صــادر کړی، د دوی خپله ســتونزه ده. نور مسلمانان یې دغه راز په همدغه تله تلل...

ما ورځخه دوې پوښتنې وکړې: ما پوښتنه وکړه چې د وزیرستان خلکو د امریکا له بریده مخکې پر ځان بمونه ټرلي او خلک وژلي وو؟ همدا پوښتنه د عراق په سیاق کې ډېره مهمه ده. هغوی خو پوهان لرل، فرهنګي او ساینسي پرمختللي خلک وو، آرامه ټولنه یې وه؛ د امریکا له بریده وروســته ولې دغه ډول افراطي وحشــت په کې راوټوکېد؟ یا که د ســوریې بېلګه راواخلو، ســوریه کې د لیک لوســت کچه ۸۴سلنه ده؛ خو نن چې د ســترو ځواکونو د ګټو د ټکر پــه ټکي بــدلــه شــوې، د اور او وینو څومره ویروونکی حالت پرې واکمن دی. بله پوښتنه د تازه حالاتو په اړه ده. په مصر او ترکیه کې امریکا او اروپا ولې د خلکو د رایې او غوښــتنې پر وړاندې ودرېږي او د مجرمو او قاتلو کود تاګرو ملاتړ کوي؟ که له دوی سره غربي مرســته نه وای، دوی به د کود تا ســوچ هم نه وای کړی، او نه به یې له ترسره کولو وروسته د دې وړتیا لرله چې ایله یوه میاشت واکمن پاتې شي.

دا هغه دوې پوښــتنې وې چې زما څنګ ته ناســت استاد سره یې ځواب نه ؤ. راته کړه یې چې ستا نظر ته درنښت لرم او دا بحث به همدلته ختم کړو...

په دغو مســایلو کې د څېړنې او مناقشــې ډېرې علاقه مندانو د ستونزې اصلي سرچینه غلطه کړې. دا اصــلا د دوو ســترو ثقافتونو جګړه ده. د غرب او شرق جنګ دی. له هغې ورځې چې غرب پر شرق حاکم شوی، د دوی د تمدن د له منځه وړلو له پاره یې اســاسي هڅې پیل کړې دي. په الجزایر کې پر خلکو فرانســوي ژبه وټپل شــوه، ځکه چې غوښــتل یې دغه خلک د هســپانیې د خلکو په څېر له خپل تمدن سره پرې او فرانسویان کړي. ترکیه، اندونیزیا او نوره نړۍ کې هم لــه عربي الفبــا نیولې تر نور فرهنګي او ديني اصولو سره شديده جګړه وشوه. تر څو دوی له خپل فرهنګ او تمدن څخه پرې کړي، چې د جاپان په څېر خلک په کې له خپل فرهنګ سره وشلېدل، ځکه خو اوس نسبتا آرام ژوند لري او پرمختللي دي.

په اســلامي نړۍ کې د غه پروســه د ځینو نورو هېوادونو په څېر نه ده بریالی؛ ځکه دلته اســلامي هویت د اســلامي تمدن اســاس دی او ریښــې یې دومره ژورې دي، چې وېســتل یې څه آســانه کار نه دی؛ ځکه خو دغه جګړه تر ننه دوام لري. مګر اوس ســړه جګړه ده. چېرته چې مســلمان سر پورته کوي او د خپلواکۍ هڅه کوي، ټولې هڅې یې په نطفه کې له منځه وړل کېږي او غږ یې په ستوني کې ټپ کېږي؛ دا ځکه، چې هغوی تر موږ ښه پوهېږي چې دغه امت کې پوټنشــیل شــته او لا هم د پر پښــو ودرېدو او خپل تمدن جوړولو وړتیا لري. سکاټلنډۍ مســتشــرق پروفیســر مونټګامري وټ په خپل کتاب Fundamentalism and Modernity Islamic (اســلامي بنســټپالنه او موډرنټي) کې لیکي چې د مســلمانانو له لورې د نړۍ په دار الاســلام او دار الکفر وېشــل د پخوا کیســه نه ده. هغه وایي چې دودپال اســلام په تونديز پرمخ روان دی او داســې وخت به راشي چې دا اصــطلاحات به د نړیوال ســیاســت په لومړي کتار کې ودرېږي. د یادونې وړ ده چې دغه اصــطلاحات د اســلامي نړیوال نظم اصل تعبیروي.

کلــه چې دغــه ډول بــدلون رامنځ تــه کېږي او مســلمانان د ماډرنېزم پر ضــد راولاړېږي او خپل اصــل ته رجوع کوي، د غرب نړیوال نظم په کې له ګواښ سره مخ کېږي او پر نړۍ د دوی د حاکمیت د پای زېرې په طبیعي شکل وړاندې کېږي. دا هغه

څه دي چې غرب يې په هېڅ صورت منلو ته حاضر نه دی. ځکه د هغوی د کامیابۍ راز په همدې نړیوال نظم کې دی.

پخواني امریکایي سیاستوال او اکاډیمیکه څېره، پروفیسر هنري کسینجر، په خپل وروستي کتاب World Order کې کاږي چې د ځوانۍ پر مهال مې له ولسمشر ټرومن څخه پوښتنه وکړه چې ستره بریا دې څه ده. امریکایي ولسمشر ټرومن ځواب کې وایي چې ستره بریا مو دا ده چې دو یمه نړیواله جګړه کې مو خپلو دوښمنانو ته ماته ورکړه، او بېرته مو پر یوه مېز (ملګرو ملتونو) راټول کړل. له همدې امله دوی نن پر نړۍ واکمن دي.

معنا دا چې په نړۍ کې د تمدنونو جګړه روانه ده. سوونه کاله وشول چې دا جګړه روانه ده او تر څو چې دا تمدونونه وي او دا لیدلوري وي، دا جګړه به هم وي.

په ترکیه کې د اتاتورک له واکمنۍ تر ننه د اسلامي فرهنګ پر ضد جګړه کومه عادي خبره نه ده. هلته تېره پېړۍ کې د اسلامي فرهنګ او غربي فرهنګ ترمنځ جګړه روانه ده. د تېرې میاشتې د کودتا هڅه د همدې جګړې یوه بله کړۍ وه. که څه هم غربیان پوهېږي چې د ترکیې واکمن اسلامي ګوند دودپاله افکار نه لري، بلکې د سیکولرېزم او دیموکراسۍ تر چتر لاندې پرمخ درومي، خو هغوی پوهېږي چې د دې پایله هغوی ته خطرنا که او د منلو وړ نه ده. همدا کیسه په مصر کې هم وشوه. اخوان المسلمین که څه هم تېرو اتیا کلونو کې د غربي سېسټم تر چتر لاندې د واک ترلاسه کولو هڅه کوي، خو بیا هم هغسې یې مخه نیول کېږي، لکه د مرسي چې ونیول شوه. غربیان د دغه کمزوري اسلامي پرمختګ د زغملو وړتیا نه لري.

په افغانستان کې د غربي فرهنګ خپرول او له اسلامي فرهنګ سره د ملت پرې کول موږ په خپلو

سترګو وینو. دلته ډالري امریکایي پروژې، مختلف ټلویزیوني چینلونه او راډیوګانې، مجلې، ورځپاڼې، د مدني ټولنو په نامه فعالیتونه د دغه ستر پروګرام له مخې ترسره کېږي. اوس په کابل کې د الحادي، سیکولرېستي او ماډرنېستي ډلو او افکارو راپورته کېدل د مسلمان افغانستان د راتلونکي له پاره د زهري بوټو کرل دي. دا نیالګي به په راتلونکي کې له خپل اصیل تمدن سره د خلکو په شلولو کې مهم رول ولوبوي. هغه مهال به د امریکایي پوځیانو د شتون اړتیا نه وي.

بلې خوا اسلامي ملتونه تر ډېره قربانۍ ته آماده دي او د خپل فرهنګ د راژوندي کولو تلوسه لري. د مصر په میدان تحریر او رابعة العدویة کې د سیسي د پوځیانو پر وړاندې ودرېدل او د زرګونو کسانو قرباني د دغې تلوسې ښه بېلګه ده. په ترکیه کې د تېرې کودتا د هڅې پر مهال په تقسیم څلورلارې کې د ترکیانو «الله اکبر» نارې د غربي نظام پر وړاندې د بغاوت اعلان و. په ټوله اسلامي نړۍ کې د تپل شویو واکمنو او تر اختناق لاندې مسلمانانو ترمنځ د لاس او ګرېوان روان حالت په مسلمانانو کې د دغه پوټنشل ښکارندوی دی.

ناشونې نه ده چې په دغه ستونزمن حالت کې راګیر مسلمانان دې ژر خپل اصالت تمثیل کړي او د یوه نړیوال تمدن په توګه رامخته شي؛ ځکه چې د اسلام پیغام په داسې یوه سوځوونکې صحرا کې راټوکېدلی چې د روم او فارس سترو تمدنونو د خپلې واکمنۍ لاندې راوستلو وړ نه بلل او د نړۍ تر ټولو ناپوه او وروسته پاتې خلک په کې اوسېدل. په دغه ډول ټولنه کې د اسلام نور راپورته شو، د فارس او روم امپراتورۍ یې په لنډ مهال کې له منځه یوړې او نړۍ ته د یوه مهم تمدن په توګه وړاندې شو.

د اسلامي تمدن له منځه وړل ځکه ناشوني دي چې د حقانیت سرببره ورسره د قرآن په څېر کتاب دی. تر هغې چې مسلمانان قرآن لري، د دوی تمدن به وي. ورسره به د تمدنونو جګړه هم روانه وي. د مسلمانانو ننني محکومیت او مظلومیت ابدي نه دی. دا به تر لنډې مودې دوام کوي، تر هغې چې حق پر باطل غالب شي.

اوس د مسلمانانو د رونې اندو او لوستو دنده ده چې خلک د ستونزې په جړه وپوهوي او له شته دسیسو څخه پرده پورته کړي، تر څو دوست و دوښمن وپېژني او په راتلونکي کې محتاطانه قدمونه پورته کړي. دا د راپورته کېدو لومړی شرط دی، ځکه رسول الله له همدې ځایه پیل کړې وه، نو باید لومړی قدم له همدې ځایه پورته شي.

وما ذالک علی الله بعزیز

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

کلینیک دیوان بیگی
داکتران مجرب، لابراتوار مجهز،ادویه با کیفیت
مکان خوب برای معالجه و چیک اپ عمومی شما واطفال تان.
با چیک اپ عمومی خود و فامیل تان را از امراض قابل وقایه نجات بدهید!
آدرس: کوته سنگی، ساحه دیوان بیگی، کوچه چهارم.
با همکاری تخنیکی انجمن طبی اسلامی افغانستان.
موبایل: 0782040294 - 0202563051 - 0202563050
AIMA